دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاوه، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکی او ښه لیدونکي دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۱۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۵۷ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د چنګاښ ۳ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د شعبان المعظم ۲۵ مه د۲۰۱۴ م د جون ۲۴ مه

ډاکتر عبدالله عبدالله:

څوک چې پراخه درغلۍ کوي نو د قانون پر وړاندې باید ځواب ویونکی وي

« مور د خلکو له یوې رایې هم نه تېرېږو »

کابل، رسنۍ:
د ولسمشرۍ ټاکنو کاندید ډاکټر عبدالله، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشا مشر د استعفا په غبرګون کې ویلي، چې که هرڅوک په پراخه درغلیو کې لاس ولري نو د قانون پر وړاندې باید ځواب ویونکی وي.
د ټاکنو په دویم پړاو کې، د ډاکټر عبدالله په مشرۍ د اصلاحاتو او همپالنې ټیم له لوري پر ضیاءالحق امرخیل د بیا بیا تورونو لګولو وروسته، امرخیل د ټاکنو کمیسیون د دارالانشا له مشرتابه څوکۍ څخه په رسمي ډول استعفا وکړه.
ډاکټر عبدالله پرون په یوه خبري ناسته کې د امرخیل د استعفا په غبرګون کې وویل: "څوک چې په پراخه درغلیو کې لاس ولري نو قانون ته باید ځواب ویونکی وي."
هغه ادعا وکړه، چې د ټاکنو کمیسیونونه او یو شمېر دولتي چارواکي، په ټاکنیزو درغلیو کې لاس لري او په دویم پړاو کې اته میلیونه رایې کارول شوي او د ټاکنو کمیسیون باید په دې اړه هم وضاحت ورکړي.
ډاکټر عبدالله داسې مهال دا ادعا رد کړې، چې د ټاکنو کمیسیون په دویم پړاو ټاکنو کې د خلکو شمېر اوه میلیون ته نږدې بللی دی.
ډاکټر عبدالله وویل، د رایې ورکولو په کومو مرکزونو کې چې رایې نه دي تر سره شوې، دوی ته د ملو ورته دي او په هغو حایونو کې باید بیا رایه ورکړل شي او د اصلاحاتو او همپالنې له ټیم سره ژمنه شوې، چې د ټاکنو کمیسیون سیستم ته تولې داخلې شوې...

(۴ مخ)

رییس دارالانشای کمیسیون مستقل انتخابات از سمتش استعفا کرد

رییس دارالانشای کمیسیون انتخابات در حالی از سمت خود کناره گیری می کند که یک روز پیش ستاد انتخاباتی تیم اصلاحات و همگرایی، مکالمه تیلفونی که مربوط به امرخیل است را نشر کرد.

کابل، رسانه ها:
ضیاالحق امرخیل، رییس دارالانشای کمیسیون مستقل انتخابات بعد از ظهر دوشنبه مؤرخ ۲ سرطان ۱۳۹۳ رسماً از سمتش استعفا کرد.
او در یک کنفرانس خبری اعلام کرد که بدون هیچ فشاری از سمت خود کناره گیری کرده است.
رییس دارالانشای کمیسیون انتخابات در حالی از سمت خود کناره گیری می کند که تیم اصلاحات و همگرایی، او را به دست داشتن در تقلب در انتخابات متهم کرد ...

(ص، ۴)

نورستانی:

ده درصد آرای ۵ ولایت مجدداً تفتیش و باز شماری میشود

کابل، رسانه ها:
کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان اعلام کرد که به هدف تامین شفافیت بهتر پروسه، انتخابات، ده درصد آرای پنج ولایت این کشور مجدداً تفتیش و باز شماری خواهند شد.
مسوولان کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان می گویند که برای دور کردن نگرانی ها و ایجاد فضای اعتماد میان نامزدان ریاست جمهوری تصمیم گرفته اند تا آرای پنج ولایت دوباره تفتیش و باز شماری گردد.
احمد یوسف نورستانی رییس این کمیسیون روز دوشنبه در یک نشست خبری در کابل گفت که تنها ده درصد آرای ۳۰۰ محل رای دهی در پنج ولایت مورد تفتیش و باز شماری قرار خواهد گرفت:
"کمیشنر ها تصمیم گرفته اند تا آرای ۵ ولایت را که از سوی ستاد های انتخاباتی از آن ...

(ص، ۴)

د پاکستاني پوځیانو وروستیو سرغړونو ته به بالمثله ځواب ورکړو (مستغني)

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت پر هیواد د پاکستاني پوځیانو حملې یو ځل بیا د افغانستان پرملي حاکمیت او خپلواکۍ تېری وباله او ویې ویل، چې پر وړاندې به یې چوپه خوله پاتې نه شي.
د دې وزارت ویاند شکیب مستغني د پاکستاني پوځیانو هغه عمل وغانده؛ چې په ملکي جامه کې د افغانستان خاورې ته را اوښتي او په کونړ ولایت کې یې د امنیتي ځواکونو په پوسته حمله کړې ده.
ښاغلي مستغني د دوشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل؛ چې افغان ځواکونه به دا ځل په مناسب وخت کې پاکستان ته بلمثله ځواب ورکړي.
"د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د پاکستان دغه نه بښوونکی عمل په شدت سره...

(۴ مخ)

کلید حل بحران در دست رئیس جمهور است

احسان الله بلال



((گرچه رئیس جمهور براساس حکم قانون اساسی بعد از تاریخ اول جوزای سال جاری دیگر یک رئیس جمهور قانونی نیست بلکه برای آن که خلای قانونی بوجود نیاید، تا زمان انتقال قدرت به رئیس جمهور جدید حیثیت سرپرست ریاست جمهوری را دارد؛ ولی با آن هم هنوز سرنخ در دست رئیس جمهور است او میتواند کشور را بسوی یک بحران ببرد و هم از یک بحران نجات دهد. اگر او فکر کرده باشد که از طریق کمیسیون انتخابات یک کس را برنده اعلان کند و باز بزور نیروهای امنیتی دولت و قوای ایساف او را داخل ارگ ریاست جمهوری کند، اعمال چنین فشار و زور هر گز نخواهد توانست کلاً جلو یک بحران سیاسی را بگیرد؛ چون افغانستان تنها همین ارگ ریاست جمهوری نیست چنانچه آقای کرزی نتوانست به افغانستان صلح بیاورد، چنانچه او با مخالفین مسلح دولت به نحوی در ارتباط هم باشد و از خزانۀ دولتی هم کاهگاهی جیبهای آنها را پر کند، ارادۀ سیاسی دولت برای حل بحران نه، بلکه در عقب پرده برای ادامۀ بحران است.))

(ص، ۲)

کلنټن:

د افغانستان په اړه د پاکستان پخوانۍ پالیسي ناکامه شوې

پاکستان، رسنۍ:
د پاکستان مشهورې انګرېزي ورځپاڼې "ډان" له یوه هندي تلویزیون سره د امریکا د بهرنیو چارو د پخوانۍ وزیرې هیلري کلنټن د مرکې لنډیز خپور کړی؛ چې وایي، په افغانستان کې د پاکستان د ستراتیژیک ژوروالي د موندلو پالیسي ناکامه شوې او پاکستان باید اوس خپله ټوله توجه په دې هیواد کې د مېشتو سخت دریځه وسله والو خوا ته واړوي.
ورځپاڼه کاږي، چې هیلري کلنټن همداراز ویلي، پاکستان ته اوس ښایي چې ځینې سختې پریکړې وکړي او په دې لړ کې له سخت دریځه ډلو څخه لاس واخلي؛ د هغوی روزنیز مرکزونه او خوندي ځایونه له منځه یوسي او د هغو مدرسو څارنه وکړي؛ چې د ځانمرګي برید ګرو په ...

(۴ مخ)

په افغانستان کې ۶۷ امریکایي بې پیلوټه الوتکي لوېدلي دي

د «واشنګټن پوسټ» ورځپاڼې تر یو کال څخه زیات وخت د امریکا د متحده ایالتونو د پوځ په لسګونو زرو د حادثو راپورونه پلټلي او وايي چې په تیرو ۱۳ کلنو کې په سلګونو بې پیلوټه الوتکي رالوېدلي دي.
بې پیلوټه الوتکي د امریکایي پوځ د مؤثره ترینو وسلو څخه شمېرل کیږي.
د دغې وسلې استعمال د امریکایي جنګي تاکتیک یوه مهمه برخه ګرځېدلې او د نړۍ په پیلو سیمو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي.
خو د لومړي ځل لپاره اوس څرګنده شوې ده چې زیاتې ...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

عذر گناه بدتر از گناه

دور دوم انتخابات ریاست جمهوری همراه با تقلبات مهندسی شده از داخل ارگ، آنچنان که پیشبینی میشد، سپری شد. انتخابات چنان رسوایی با خود به همراه داشت که اکنون یکایک آن برملا میگردد. بتاریخ اول سرطان تیم اصلاحات و همگرایی اسناد مکالماتی ضیاء الحق امرخیل رئیس دارالانشای کمیسیون مستقل انتخابات را از طریق رسانه های تصویری بدست نشر سپرد و علاوه بر آن کاپی های آنرا در اختیار رسانه ها گذاشت. گرچه ستاد انتخاباتی تیم اصلاحات و همگرایی وعده سپرد که در روزهای بعدی اسناد دیگری را نیز بدست نشر خواهد سپرد؛ ولی اگر عدالت و انصاف باشد، همین اسناد نشر شده که هیچنوع ابهامی در آن وجود ندارد برای رسوایی مهندسان تقلب کافی خواهد بود. آقای امرخیل با تعجیل آمیخته با دلهره آنرا یک امر جعلی خواند و دیروز مورخ ۲ / ۴ / ۱۳۹۳ طی یک کنفرانس مطبوعاتی مجبور به استعفا از عهدهٔ خود شد چون سندی که روز یکشنبه ارائه شد انکار از آن نمیتواند بر مهندسی او به ارتباط تقلبات پرده بیندازد؛ ولی کمیسیون انتخابات باید به ارتباط مهندسیهای او جواب بگوید. افراد وابسته به تیم تحول و تداوم تحت رهبری داکتر اشرف غنی احمدزی هم یکصدا در دفاع از آقای امرخیل برآمدند که آنچه به ارتباط امرخیل انجام شد خودش یک جرم است، و به اصطلاح استراق سمع و مخالف حکم قانون است؛ ولی درینجا دو مسأله قابل تعمق است:

نخست آنکه اینها وقتی میگویند این استراق سمع است ناآگاهانه بر جرم آقای امرخیل اعتراف کردند یعنی این مکالمات صورت گرفته؛ ولی تیم اصلاحات و همگرایی در مخالفت با قانون آنرا سمع نموده است.

دوم اینکه کمیسیون انتخابات در برابر هر ادعا خواهان ثبوت است و کمیسیون سمع شکایات هم بدون وجود یک سند شاید خاضر نباشد به شکایات جواب مثبت بگوید. ببینیم که تیم اصلاحات و همگرایی دیگر چه اسنادی ارائه می کند که قضاوت در آن مورد را میگذاریم به وقت و زمانش.

ما فکر میکنیم همین اسناد ارائه شده به شکل مکالمات هم برای تأیید موقف تیم اصلاحات و همگرایی کافی خواهد بود: زیرا وقتی قاضی جانب یکی از طرفین دعوا را بگیرد بدیهی است که همان شخص برنده است که قاضی به نفعش کار میکند. در صورتی که رئیس دارالانشای کمیسیون انتخابات که در حقیقت گردانندهٔ اصلی کمیسیون انتخابات است و نسبت به رئیس، معاون و کمشنران آن کمیسیون درین رابطه شناخت و تجارب زیاد دارد، به نفع یک کاندیدا مصروف مهندسیها باشد، طبیعی است که میخواهد انتخابات به نفع تیم مورد نظرش تمام شود که بدینترتیب یک حکومت غیر مشروع بمیان خواهد آمد. تیم اصلاحات و همگرایی که واقعاً تیم پیشتاز این انتخابات هم در دور اول بود و به باور کامل میگوییم که در دور دوم هم است، حق دارد به دفاع مشروع از آرای آنعده هموطنان عزیز برآید که به این تیم رأی داده اند.

عقلاً هم آدم سنجیده میتواند تیمی که در دور اول کم از کم چهارده فیصد از تیم اصلاحات و همگرایی عقب بود، چه افتاد که به یکبارگی آنقدر محبوبیت یافت که هم آن تفاوت گذشته را پوره کند و هم به ادعای هواداران تیم تحول و تداوم، از تیم اصلاحات و همگرایی سبقت جوید. بناء این کار بدون یک تقلب از قبل مهندسی شده اصلاً امکان ندارد. تیم اصلاحات و همگرایی حق دارد تا به قناعتش پرداخته شود، اگر کمیسیون فیصلهٔ یکجانبه کند برای تیم اصلاحات و همگرایی قابل قبول نیست و مسؤول اثرات اقدامات یکجانبهٔ کمیسیون انتخابات بر روند زندگی عادی مردم ما، همین کمیسیون خواهد بود و تیم اصلاحات و همگرایی حق خواهد داشت از طریق حرکتهای مدنی خواهان حقوق مشروع خود شود. تیم اصلاحات و همگرایی زمانی وارد پروسهٔ انتخابات میشود که تمام شرطهایش پذیرفته شود. انتخابات مجدد در ولایاتی که در آنجا تقلب گسترده صورت گرفته است از شرطهای اساسی بشمار میرود.

وقتی ما میگوییم تقلب این ادعای محض و بی اساس نیست، پر شدن صندوقها در ولسوالی برمل یک روز قبل از انتخابات که رسوا شد، تبدیلی یک عده قوماندانان امنیه در شب انتخابات با تعجیل تمام که این مسأله از سوی تیم اصلاحات و همگرایی با وزارت داخله هم شریک شد، هکذا گرفته شدن پنج هزار کتابچهٔ حاوی برگهای رأیدهی در شرنه، گرفته شدن صندوقهای پر شده در ارگون و امثال آن که تفصیل همه درین مقال نمیگنجد از مثالهای برجستهٔ تقلب مهندسی شده است. به باور و معلومات ما رئیس جمهور درین مهندسیها خودش مستقیماً دست دارد و کمیسیون انتخابات و شکایات هم با اطمینان کامل دست به تقلب زدند؛ زیرا به آنها همین حکم شده است؛ ولی تیم اصلاحات و همگرایی باز هم خود را مسؤول از رأی پاک مردم خود میداند تا زمانی که قانع نشود دست از یک مبارزه معقول و مدنی خود برای احقاق حقوق این تیم دست برنخواهد داشت.

احسان الله بلال

کلید حل بحران در دست رئیس جمهور است

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

کسی که در تبانی با غرب، برخلاف خواست ملت از راه اعمال فشار و تطمیع به قدرت رسیده باشد و سیزده سال تمام هم در قدرت باقی مانده باشد و مسؤول درجه یک فساد حاکم اداری و عدم حفظ تمامیت ارضی، نگرفتن جلو غصبها وغیره موارد باشد، عقل سلیم نمیتواند بپذیرد که او به یکبارگی از قدرت کنار برود و ارادهٔ او در جریانات بعدی سیاسی نقش خود را نداشته باشد، چرا رسانه ها هم از داکتر عبدالله و هم از داکتر اشرف غنی می پرسند که اگر شما پیروز شدید جایگاه آیندهٔ حامد کرزی در سیاست بعدی افغانستان چه خواهد بود؟ و آنها هم با دل خواسته یا نخواسته درین مرحله مجبور اند بپذیرند که او در سیاست آیندهٔ افغانستان جایگاه خاص خود را خواهد داشت. اینکه حامد کرزی از آغاز روند انتخابات ۱۳۹۳ تظاهر میکرد که او از هیچکس پشتیبانی نمیکند، معلوم شد که این همه تظاهر بجز از اغفال یک عده چیز دیگری نبود. حامد کرزی بالاخره رأی خود را در صندوق کی ریخت؟ جواب روشن است. اگر رئیس جمهور واقعاً بی طرفی خود را حفظ میکرد زمانی میتوانست بی طرف بماند که اولاً می پذیرفت که او قدرت را به یک حکومت منتخب دیگر میسپارد و رئیس جمهور آینده و حکومتش می دانست و طرز اداره اجراآت و سیاستش اگر احیاناً از وی مشوره یی در کدام مورد خاص میخواست، می شد با درنظرداشت تجارب سیزده ساله و با احساس مسؤولیت ملی یک مشوره مفید میداد؛ ولی حامد کرزی آنچنان که معلوم شد اصلاً نپذیرفته است که جلو اقتدار از دستش برود، بلکه او میخواهد رئیس جمهور اصلی در عقب پرده خودش و در روی پرده کسی دیگری باشد، اینکه حکومت آینده تن بچنین بی صلاحیتی میدهد یا نه، آنرا وقت و زمان جواب خواهد داد.

انتخابات دور اول یا شانزدهم حمل ۱۳۹۳ انجام یافت، ادعای تقلبات شد، شکایات درج شد و بررسی شد و نتایج اعلان گردید که تفاوت آشکار بود تقریباً چهارده در صد. دو تیمی که به دور دوم رفتند یعنی تیم اصلاحات و همگرایی و تیم تحول و تداوم قوتهای اصلی بیشتر بسوی تیم اصلاحات و همگرایی رفتند، چنان پیشبینی میشد که باز هم تیم اصلاحات و همگرایی در صورتی که تقلب صورت نگیرد، به آسانی برنده خواهد بود. البته می پذیریم که تفاوت آرا بین دو تیم در حالت قبلی باقی نمیماند، میشد این تفاوت بیشتر از دور اول باشد و میشد نزدیکتر از گذشته باشد؛ ولی این تصور اصلاً وجود نداشت که تیم درجه دوم به یکبارگی چهار نعل از تیم اول پیشی گیرد. تقریباً یک هفته قبل زمزمه میشد که چنین یک برنامه ریخته شده است که در ولایات نا آرام مانند پکتیا، خوست، پکتیکا، میدان وردگ و کنر وغیره که والیان آن ولایات هم با تیم تحول و تداوم هستند این برنامه تطبیق شود، چنانچه در روز ۲۴ جوزا دیدیم که چنین شد و در همان ولایات شد که پیشبینی شده بود.

تیم اصلاحات و همگرایی براین وضعیت اعتراض شدید خود را ابراز داشت؛ ولی دولت که کار خود را موفقانه انجام داده بود، این همه اعتراضات را با بی تفاوتی بنظاره نشست. اگر دولت درین ماجرا دست نداشته باشد آنچنان که هنوز هم ادعای بیطرفی میکند، می شود تحت شرایط قابل قبول برای هر دو طرف تحت نظارت شدید مراجع بیطرف و ناظران هر دو تیم در چند ولایتی که جریان انتخابات در آنجا قابل اعتراض است، دوباره صورت گیرد و شمارش آرا هم بیطرفانه باشد تا مورد قناعت هر دو جانب باشد و به این ترتیب کشور عمداً بسوی یک بحران سیاسی کشانده نشود؛ زیرا کشور ما بحرانهای پی در پی و ممتدی را پشت سر گذشتاند و دیگر توان تداوم بحران و یا ایجاد بحران جدید را ندارد.

آنچنان که رئیس جمهور میگوید بروز اختلافات در جریان انتخابات یک امر طبیعی است؛ می پذیریم که طبیعی است؛ ولی حل اختلافات به قناعت جانبین هم مسؤولیت دولت است و دولت زمانی میتواند این کورگره را بکشاید که در زمینه بی طرفانه عمل کند؛ ولی اگر مسؤولین کمیسیون انتخابات در برابر یک تیم بچنان بی تفاوتی سخن گوید که کشمش و نخود در دهن داشته باشد، این بدون یک استهزا معنای دیگری نمیتواند داشته باشد و اگر کمیسیون اطمینان خود را از فرد اول دولت نگرفته باشد فکر نمیکنم یک طرف قضیه را کاملاً نادیده گرفته بلکه با تمسخر با آن رفتار نماید.

گرچه رئیس جمهور براساس حکم قانون اساسی بعد از تاریخ اول جوزای سال جاری دیگر یک رئیس جمهور قانونی نیست بلکه برای آن که خلای قانونی بوجود نیاید، تا زمان انتقال قدرت به رئیس جمهور جدید حیثیت سرپرست ریاست جمهوری را دارد؛ ولی با آن هم هنوز سرنخ در دست رئیس جمهور است او میتواند کشور را بسوی یک بحران ببرد و هم از یک بحران نجات دهد. اگر او فکر کرده باشد که از طریق کمیسیون انتخابات یک کس را برنده اعلان کند و باز بزور نیروهای امنیتی دولت و قوای ایساف او را داخل ارگ ریاست جمهوری کند، اعمال چنین فشار و زور هر گز نخواهد توانست کلاً جلو یک بحران سیاسی را بگیرد؛ چون افغانستان تنها همین ارگ ریاست جمهوری نیست چنانچه آقای کرزی نتوانست به افغانستان صلح بیاورد، چنانچه او با مخالفین مسلح دولت به نحوی در ارتباط هم باشد و از خزانهٔ دولتی هم گاهگاهی جیبهای آنها را پر کند، ارادهٔ سیاسی دولت برای حل بحران نه، بلکه در عقب پرده برای ادامهٔ بحران است. امروز آن زمان گذشته است که یک کلاه بتواند بالای ملت افغانستان حکومت کند. ما طرفدار سلب و نادیده گرفتن حقوق هیچکس نیستیم به همین ترتیب که اجازه نمیدهیم حقوق ما را نادیده بگیرند، هرگز نمیخواهیم حق دیگران تلف شود. بحران سیاسی زمانی سر برافراشته میتواند که یکی را بیش از حقش بدهند و حق دیگران را پایمال کنند، میدانیم که هیچکس نمیپذیرد حقش تلف شود. بناءً ما طرفدار آن هستیم که: «علاج واقعه قبل از وقوع باید کرد» قبل از آن که گپ به بحران کشانده شود باید جلو ظهور بحران را بگیریم؛ انتخابات بر دو باخت دارد اگر هر تیمی به آرای شفاف بقدرت میرسد نوش جانش، این هم بعدها معلوم خواهد شد که تیم برنده میتواند حق اعتمادی را که ملت بالایش کرده اداکند یا نه. تیم به اصطلاح بازنده میتواند در فردا نقش یک اپوزیسیون نیرومند را ادا کند، ما آنچنان که به یک حکومت نیرومند نیاز داریم. به یک دولت مصمم و قاطع نیاز داریم به یک اپوزیسیون نیرومند هم نیاز داریم تا جلو خودسریهای دولت را گرفته بتواند.

د ټاکنو خپلواک کميسيون خپل قانوني اعتبار له لاسه ورکړی دی

عبيدالله صافي

لدې اساسي اصل نه هېڅوک انکار نشي کولای چې هر شخص او هره اداره پخپل قانوني چوکاټ کې د خپل کار مسؤول او امين دی، په دې نړۍ کې داسې څوک نشته چې هغه له مسؤوليت نه عاري وي، ان چې د الله رسولان هم مکلف دي چې خپل رسالت ترسره، او د الله سپيڅلی دين انسانانو ته ورسوي. لکه چې لوی الله پخپل سپيڅلي کتاب قرآن کريم کې په ځرګندو ټکو کې محمد صلی الله عليه وسلم ته فرمايي؛ که چيرته تا زما دين انسانانو ته ونه رساو؛ نو خپل رسالت دې نه دی ترسره کړی.

د ټاکنو دوه خپلواک کميسيونونه په دې مقصد جوړ شوي دي چې د ولسمشرۍ، پارلماني او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې خپل هغه مسؤوليت په بشپړ ديانت او ايمانداري ترسره کړي چې قانون دهغوی پر غاړه اچولې او هغوی هم د الله پر سپيڅلی کتاب قرآن کريم د لاسونو پر ايښودلو دا لوړه کړې چې په ټاکنو کې به د چا پلوي نه کوي؛ بلکې په تمامه معنا به په بشپړ بې پرې توب د ټاکنو بهير پرمخ وړي او حق به حقدار ته سپاري؛ نه دا چې د چا پلوي وکړي او په ټاکنو کې پخپله په درغلۍ لاسونه پورې کړي؛ خو کله چې د ټاکنو خپلواک کميسيونونه د چا د پلوي مرتکب شي او يا هم له درغلي کوونکو سره لاس يو کړي او دهغوی په ګټه فعاليت وکړي؛ نو هغوی په قانوني ډول د جنايت مرتکب کېږي او هغه اهليت او امانت له لاسه ورکوي چې اولس دهغوی پر غاړه اچولې و.

د ټاکنو د خپلواک کميسيون دا ادعا چې د ولسمشرۍ نوماندان دهغې هوکړې لـه مخې چې له کميسيون سره يې لاسليـک کړې او په هغه کې يې دا منلې چې د ټاکنو د کميسيون هره پريکړه به مني او درناوی به يې کوي بالکل بې ځايـه ده؛ ځکه چې د نوماندانو له هوکړې سره سم د ټاکنو خپلواک کميسيونونو مشرانـو هـم پخپل وار دا تعهد سپارلی دی چې خپـل مسؤوليت او رسالت به د ايمانداري پـه چوکاټ کې ترسره کوي؛ خو چې هغـوی پخپل تعهد او ژمنه کې په مطلق ډول پاتې راغلل او د شفافيت پرځای يې د درغلـۍ لاره يې خپله کړه؛ نو خپل قانوني حيثيت يې له لاسه ورکړ او نور ددې وړتيا نه لري چې ورباندې اعتماد وشي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم حديث شريف دی چې له تاسو نه هر څوک چوپان دی او هر چوپان د خپل رمې مسؤوليت پر غاړه لري. د ټاکنو کميسيونونه هم د همدې مبارک حديث په چوکاټ کې په خپله کاري دائره کې مسؤول او د ولس پر وړاندې ځواب ورکوونکي دي. د دواړو کميسيونونو مثال بالکل داسې دی لکه چې يو څو کورونه څوکسه د خپلو مالونو د ساتنې لپاره څوکيداران وساتي او هغوی ته دا ذنده وسپاري چې کورونه يې د غلو له غلاوو نه وساتي او هيڅوک پرې نږدې چې دهغوی په کورونو کې داخل او مالونه يې غلا کړي؛ مګر که څوکيداران د خپل مسؤوليت د ترسره کولو پرځای له غلو سره لاس يو او په ګډه غلا وکړي؛ نو په دې صورت کې څوکيداران کله هم دا نشي ويلای چې موږ بې ګناه يو او هېڅوک دا حق نه لري چې پر موږ نيوکه وکړي او يا مو له دندو ګوښه کړي.

د ټاکنو کميسيون په لومړي پړاو کې هم د خپل امانت په ترسره کولو کې په مطلق ډول پاتې راغی چې ښکاره ثبوت يې د پنځو زرو نه زياتو کارکوونکو په درغليو کې د لاس لرلو هغه حقيقت دی چې د ټاکنو کميسيونونو پخپله ژبه ورباندې اعتراف وکړ او ويې ويل چې هغوی به له دندو ګوښه کوي او څارنوالي ته به يې ورپيژني؛ مګر متأسفانه نه څوک دهغوی په ګوښه کولو پوه شول نه هم څارنوالي ته معرفي شول، همداراز د ټاکنو په دويم پړاو کې هم خپل مسؤوليت ترسره نه کړ. له يو نوماند سره د ساز باز په کولو ناامنو ځايونو ته له وړاندې نه د رأيو صندوقونه ولېږل. هغو ولايتونو ته چې نفوس يې لږ و څو برابره زياتې رأيې پاڼې ولېږلې. دهغوی کار کوونکو قصداً يو مشخص نوماند ته څو څو ځلي د رأيو ورکولو اجازه ورکړه چې ټول هېوادوال ورباندې ګواه دي. پس کله چې هره اداره او هر ارګان پخپل سپارل شوي مسؤوليت کې پاتې راشي او يا هم پخپله په درغليو کې ککړ شي هغه د خپل قانوني جواز له لاسه ورکوي، بيا ددې اهليت او وړتيا نلري چې ورباندې باور وشي او قضاوت يې ومنل شي ځکه چې هغه پخپله مجرم دی او د خپل ځان په ګټه کار کوي.

د اسلام په سپيڅلي دين کې هيڅوک له قانون نه پورته نه دی، که چيرته د هېواد ولسمشر هم په کوم خيانت تورن شي هغه هم د قانون پر وړاندې مسؤول دی چې خپل سپيناوی وکړي او د مجرم د ثابتېدو په صورت کې په سزا ورسېږي. کله چې حضرت ابوبکر صديق (رض) د خلافت چارې سنبالې کړې؛ نو د اصحابو يوې غونډې ته يې په خطاب کې وويل: که چيرته زه د حق له لارې نه کوږ شم؛ نو تاسې به له ماسره څه کوئ؟! اصحابو کرامو ورته وويل: په توره به دې سم کړو. ابوبکر صديق (رض) چې د اصحابو کرامو دا ځواب واورېد: نو له ډېرې خوشحالۍ نه يې وويل: شکر دی چې داسې ملګري لرم چې ما، په توره سموي، همداراز يوه ورځ حضرت عمر (رض) په منبر ولاړ و او حاضرينو ته يې وينا کوله، په دې وخت يو اصحابي پاڅيد او ويې ويل: ای عمره! تر هغې د خبرو کولو حق نه لرې تر څو چې زما ددې پوښتنې ځواب رانکړې چې د غنيمت له کوم ټوکر چې نه زما جامې جوړې نه شوې له هغه نه ستا جامې څنګه جوړې شوې؟! نو عمر رضی الله عنه خپل زوی عبدالله ته اواز وکړ چې ځواب يې ورکړئ، حضرت عبدالله (رض) پاڅيد او هغه ته يې وويل: ما خپل پلار ته د غنيمت له ټوکر نه خپله برخه ورکړه او جامې يې ترېنه جوړې کړې دي. تنقيد کوونکي چې د عبدالله (رض) دا ځواب واورېد: نو ويې ويل: ای عمره! اوس نو خپلې وينا ته دوام ورکولای شې.

ولته تنقيد کوونکی صرف د شک پراساس د مسلمانانو له خليفه نه د وضاحت او شفافيت غوښتنه کوله او تر هغه يې دهغه د خبرو له اورېدو نه بايکاټ کړی و چې قانع کوونکی ځواب يې ورته نه وي ورکړی. په داسې يو حال کې چې د اصلاحاتو او همپالنې ټيم د امرخيل د درغليو په اړه بشپړ ثبوت په لاس کې لري او مستند دلايل ورسره موجود دي د ټاکنو د کميسيون پر قضاوت څنګه اعتماد کولای شي؟! او دا د دنيا کوم قانون جواز ورکوي چې پر چا درغلي ثابته شي هغه دی پخپله دنده برحال وساتل شي؛ بلکې د نړۍ هر قانون دا حکم کوي چې هرڅوک له خپل مقام نه ناوړه ګټه پورته کړي او د وظيفوي غفلت مرتکب شي هغه دی د قانون د حکم مطابق په سزا ورسول شي. د ټاکنو خپلواک کميسيون چې د افغانستان د مسلمان اولس له رأيو سره کومه جفا کړې هغه په هيڅصورت کې د بخښلو وړ نه ده؛ ځکه چې هغوی سهوه نه؛ بلکې قصداً د يو لوی ملي خيانت مرتکب شوي دی، هغه د دومره لوی جرم په وړاندې غلي پاتې کېدل او يا هم ورسره ملاتړ کول د الله تعالی له دين سره جفا او د افغانستان د اولس له سرنوشت سره ستر خيانت دی.

ولسمشري ټاکنې، نه لوبې دي او نه هم ټوکې؛ بلکې دا په سلو کې سل د افغانستان د مسلمان اولس د سرنوشت ټاکلو هغـه قانوني حق دی چې د رأيو په استعمالولـو سره د خپل برخليک د ټاکلو فيصله پخپلـه کوي، په دې کې معمولي درغلـي او خيانت هم د هېواد او ولس د استحکام او ملي وحدت په خلاف لوی سازش ګڼـل کېږي. هغه څوک چې د ملي خيـانـت مرتکب شي دهغه په خلاف د هېواد هـر متعهد مسلمان او وفادار افغان ته پکار دي چې په چوپه خوله پاتې نشي او د خپلـو حقه حقوقو د ترلاسه کولو لپاره د مبارزې ډګر ته ودانګي.

د هېواد د يو قانوني ولسمشر د ټاکلو لپاره د اولس رأيې او په شفافه فضاً کې د ټاکنو ترسره کول د اصل په توګه منل شوی دی، د احمد يا محمود په نوم چې هر څوک دغه اصل ته د تاوان رسولو کوښښ کوي هغه په حقيقت کې هېواد د يو قانوني ولسمشر پرځای يو جعلي ولسمشر ته لاره هواروي او په دې توګه د هېواد مضبوطو بنيادونو ته نه تلافي کېدونکی نقصان رسوي، د اولس پر آراو ملنډې وهي او دهغوی تصاميم تر پښو لاندې کوي. فلهذا هر افغان ته پکار دی چې د خپلو آراو داسې په کلکه ساتنه وکړي څومره چې د خپل ايمان او ناموس ساتنه کوي. د هر افغان رأيه دهغه امانت دی، نه بنايي يو څو خود غرضو او اقتدار پرستو ته دا فرصت په لاس ورکړي، چې دهغوی پر آراو کودتا وکړي او مهندسي شوی تقلب له لارې د جمهوريت د پردې تر شا شاهي او مطلق العنان حکومتونه پرمخ يوسي. که افغانان د خپلو رأيو حساب وانخلي او له درغلي کوونکو سره په اوسپنيزو پنجو مقابله ونکړي؛ نو دغه د اولس د رأيو قاتلين به افغانستان يو ځل بيا د کمونستانو د کودتا له سرنوشت سره مخامخ کړي. فلهذا د اصلاحاتو او همپالنې ټيم دا خپل ايماني او ملي مسؤوليت ګڼي چې د خپل اتل او مسلمان ولس د رأيو د صيانت په خاطر به د ژوند تر آخرنيو سلګيو پورې خپل قانوني مبارزه جاري ساتي او هيڅوک به پرې نږدي چې د اولس پر آراو د کودتا له لارې يو تقلبي حکومت جوړ او د اولس په ارمانونو لوبې وکړي، ښه به دا وي چې ولسمشر کرزی د خپل قانوني صلاحيت له مخې د دارالانشاء رئيس ضياء الحق امرخيل په سملاسي ډول له خپلې دندې ګوښه کړي او د رأيو شميرلو بهير د دواړو ټيمونو د نماينده ګانو په موجودګۍ کې دهغو بې طرفو متخصصينو، مجربو او فني اشخاصو تر مشرۍ لاندې ترسره کړي چې له هېواد او ولس سره دهغوی مينه او خلوص ثابت وي چې په دې توګه پاکې رأيې له ناپاکو رأيو جلا او د اولس د آراو صحيح ساتنه او احترام وشي.

لدېنه اخوا هر پورته شوی ګام غير قانوني او ولس ته د منلو وړ نه دی، په دې لاره کې چې هر مشکل راپېښېږي عواقب به يې د ولسمشر کرزي او د ټاکنو د کميسيونونو پر غاړه وي.

ولسمشر کرزی دې د ملت د برۍ لپاره کار وکړي

نصرالله

عربي مقوله ده چې د هر فن لپاره خپل سړي وي، يو کار هله صحيح او ښه نتيجه ورکوي چې کار د کار اهل ته وسپارل شي. د ټاکنو او شکاياتو خپلواک کميسيونونه د افغانستان له مهمو او بنسټيزو ارګانونو څخه ګڼل کېږي. دغه ارګانونه مسؤوليت لري چې ټاکنې په عادلانه، شفافه او بشپړ بې پرېتوب ترسره کړي د اولس د رأيو مکمله ساتنه او احترام وکړي، داسې کومه تشه پيدا نکړي چې اولس د خپلو رأيو په اړه بې اعتباره او اندېښمن شي. د وري د شپاړسمې په ټاکنو کې چې کومې درغلۍ شوې وې په هغو ټولو کې د ټاکنو د کميسيونونو مستقيم لاس و چې له پنځو زرو نه پورته د انتخاباتو د کميسيون د کار کوونکو ملوث کېدل په همدې واقعيت ګواهي ورکوي، که چيرته د کميسيون د مشرانو مرسته او رضايت ورسره نه وای په هېڅ حالت کې به دومره لوی تعداد کارکوونکي په درغليو کې نه ملوث کېدل. همداراز د ټاکنو او شکاياتو خپلواک کميسيونونو خپل بې پرېتوب هله تر پوښتنې لاندې راوستی و چې د اشرف غني په ګټه په مرکز کې داسې درغلی کړې وې چې له شلو نه يې ۲۰۰۰ او له ۵۰ نه يې ۱۵۰۰ رأيې جوړې کړې وې چې ښاغلي عبدالستار مراد په يو مطبوعاتي ناسته کې داخلي او بهرنيو ژورنالستانو په وړاندې دا ټولې درغلۍ يو يو په مستند ډول ثابتې کړې؛ خـو ددې پرځای چې دواړه کميسيونونه پخپل قصور اعتراف وکړي په ډېره لوبې سره يې هر څه ردول او له خپلو ځانو يې بې ګناه معصومې کوترې ثابتولې.

له بده مرغه د جوزا پر ۲۴مه په دويمه پړاو ټاکنو کې هم درغلي خپل آخری کچې ته ورسيدلې، سلګونه د رأيو صندوقونه يوه ورځ مخکې د اشرف غني پلويانو ته ورسول شول چې هلته يې ډک کړي، داسې ډي اف سيان يې په دندو وګمارل چې د اشرف غني په ګټه کار وکړي، ګن هغه امنيه قومندانان يې چې د اشرف غني پلويان وو ديته وګومارل چې د ټاکنې په ورځ د مستقيمو مداخلو له لارې د عبدالله عبدالله د پلويانو په يوه او بله بهانه مخه ونيسي او رأيې اچولو ته يې پرېنږدي، چې د لغمان ولايت امنيه قومندان هم د همدغو ګومارل شويو قومندانانو له جملې څخه يو دی. هغه د جوزا په ۲۴ مه د ټاکنې په ورځ د اصلاحاتو او همپالنې د ټيم د ملاتړو په وړاندې خندونه واچول، ويې ځورول او ډېرې کسان يې د شپې تر ۷ بجو پورې په تورو کوټو کې بنديان کړل، د ټاکنو په محلونو کې د تحول او تداوم ملاتړو ته يې لارې هوارې کړې چې څو څو ځلي رأی واچوي. ان تر دې حده درغلي وشوې چې د رأيې پاڼې ورکوونکي کارکن له رأيې اچوونکي نه پوښتنه کوله چې خپله رأيه چاته ورکوې؟ که هغه به ويل چې ډاکټر عبدالله ته؛ نو يوه رأيه پاڼه به يې ورکوله؛ خو هغه چاته چې اشرف غني ته به يې رأيه اچوله تر لسو، پنځلسو پورې رأی پاڼې ورکولې او ورته به يې ويل چې دا ټولې اشرف غني ته واچوه. دا هم د ټاکنو د کميسيونونو له وړاندې نه په سنجول شوې درغلۍ ښکاره ګواهي ورکوي چې چيرته نفوس کم و هلته يې څو برابره رأيې پاڼې او صندوقونه ورته لېږل شوي وو چې ميدان وردګ، خوست، پکتيکا، پکتيا، لوګر او کنړ يې ښکاره بېلګې دي. هغه ولسوالۍ چې زياته برخه يې ناامنه او د طالبانو تر کنټرول لاندې دي هلته دوه، درې زره نفوس لرونکو ساحو کې څو برابره رأيې اچول شوې دي. د سروبي د دښتې په څو ځايونو کې صندوقونه ډک شول چې مستند فلم يې په طلوع، نور، آريانا او تورو تلويزيوني چينلونو کې وښودل شو. دا کار د ټاکنو د کميسيون په مستقيم لاس لرلو دلالت کوي؛ ځکه چې صندوقونه او رأی پاڼو نه پخپله پښې درلودلې او نه وزرې او ستر کې چې هلته د الوتنې له لارې رسيدلې وي؛ بلکې په بشپړ ډول دا د ټاکنو د کميسيون په کنټرول کې وو چې دهغوی له رسولو او يا هم له چاسره له جوړ جاړي پرته هلته نه شوای رسيدلی. پخپله د کابل د امنيه قوماندان له لورې له صندوقونو او رأيې پاڼو سره يوځای د امرخيل نيول کېدل چې سروبي ته يې روان کړي وو په درغليو کې دهغه د لاس لرلو لپاره لوی ثبوت دی.

د يکشنبې په ورځ چې د درغليو په تړاو د امرخيل د ټيلفوني مکالمو کوم سند وښودل شو هغه داسې يو بربنډ سند دی چې هيڅ عقل لرونکی او سنجيده انسان ترينه سترګې نشي پټولای او پر خپل ځان پخپله ګواهي ورکوي. ددې په څير سلګونه نور مستند اسناد هم شته چې ان شاء الله په راتلونکو ورځو کې به هېوادوالو ته وښودل شي؛ مګر ددغو ټولو لوڅو او مستندو اسنادو باوجود بيا هم د ټاکنو او شکاياتو کميسيونونه همدا يوه خبره کوي چې د ټاکنو ټوله پروسه به موږ تصفيه کوو، او يوازې موږ قانوني حق لرو چې ډاکټر عبدالله عبدالله زموږ قضاوت ومني، په داسې حال کې چې هغوی په ټاکنو کې د مستقيمو لاسوهنو او په مستندو درغليو کې د لاس لرلو له کبله خپل قانوني حيثيت له لاسه ورکړی دی، هغوی اوس د ملت په وړاندې مجرمان دي، ددې پرځای چې پخپلو دندو کې پاتې شي بايد تر محاکمې لاندې ونيول شي او دهغه څه سزا دې ورته ورکړای شي چې مرتکب شوي دي.

مجرم په هر حال مجرم وي هغه بايد په عدالت کې د خپل جرم حساب ورکړي؛ نه دا چې د نورو په هکله قضاوت وکړي.

ولسمشر کرزی دی هم په دې لوی بحران کې چوپه خوله نه کښېني، ځکه چې په ټولو ولايتونو کې د مهندسي شويو درغليو په اړه ډېر قوي او مستند اسناد د اصلاحاتو او همپالنې د ټيم له خوا وړاندې شوي دي دهغوی په اړه بايد فوري ګامونه پورته او درغلي کوونکي بايد په سزا ورسول شي. که د دومره کره شواهدو او اسنادو باوجود بيا هم ښاغلی کرزی له خپل قانوني صلاحيت نه کار نه اخلي او په چوپه خوله تماشا کوي: نو ګويا د اولس هغه انګيرنې او انديښنې پرځای دي چې وايي د درغليو په دې کرغېړنه لوبه کې دهغه لاسونه هم دخيل دي.

ښاغلی کرزی د ټولو افغانانو ولسمشر دی او مسؤول دی چې د افغانستان د ګټو لپاره کار وکړي اوس هغه مناسب وخت رارسيدلی دی چې د خپل بې پرېتوب د ثابتولو لپاره د څو کسو مجرمينو د دفاع پرځای د ملت دفاع ته لومړيتوب ورکړي او هغه درغلي کوونکي له دندې ګوښه کړي چې د ملت رأی او باور ته يې تاوان رسولی. د ګرانو هېوادوالو پر رأيو کودتا کړې او ارمانونه يې تر پښو لاندې کړي دي. د افغانستان د استحکام او پياوړتيا اصل بنسټ ددې خاورې اوسيدونکي دي نه عمرو او زيد، نه بنايي د يو شخص په خاطر ټول ملت په ډند کې لاهو کړی شي. د هېوادوالو د رأيو احترام د ملت او قانوني ولسمشر احترام دی، چې کله هم اولس مشر د خپل ملت په ملاتړ د اقتدار څوکۍ ته رسېږي نو له دوی دواړو نه يو لوی قوت جوړېږي، د يو بل ملاتړ او همکار ګرځي او په ګډه په بشپړه همغږۍ په ټولو مسايلو کې قوي دريځ نيسي، هم د خپل هېواد د پرمختګ او استحکام لپاره مضبوط ګامونه اخلي او هم په خارجي مسايلو کې د خپل اولس په کلک ملاتړ پياوړي موقف نيسي، په فعلي حساسو شرايطو کې افغانستان له بل هر وخت نه زيات د اولس په خوښه جوړ شوي قوي حکومت ته اړتيا لري نه تقلبي اولسمشر ته؛ نو ځکه ددې خبرې کلکه اړتيا ده چې د اولس د برۍ لپاره لاره هواره شي چې لدې لارې په افغانستان کې د مودو مودو راهيسې شته ستونزې د اولس په ملاتړ او مرسته ختم او هېواد به پياوړو بنسټونو ودرېږي، همدا کار زموږ د افغانستان د ټولو ستونزو د حل يوازينی قانوني لاره ده، نه بنايي لدې پرته بله غير قانوني لاره خپله کړو.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان تبلیغاتي ارګان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com

خوک چې پراخه درغلي ...

رایې به له سره وشمېرل شي.
نوموړي وویل: "موږ د خپل ملت حق غواړو، چې رایه یې ورکړې او ملت درغلۍ نه غواړي، درغلي تاکتیزو کمېسیونونو او حکومتي بسنونو کړي او د افغانستان خلکو ته څرګنده ده، چې څه شوي."
ډاکټر عبدالله، د ټاکنو په پروسه کې پر روڼتیا او قانونیت او د ټاکنیزو کمېسیونونو پر کړنو ټینګار او ګواښ وکړ: "موږ د خلکو له یوې رایې هم نه تېرېږو."

ریس دارالانشای کمیسون ...

و خواستار کناره گیری او از وظیفه شده بود.
تیم اصلاحات و همگرایی همچنان به دلیل دوام وظیفه امرخیل رابطه خود با کمیسیون های انتخاباتی را به تعلیق در آورد و گفت که دیگر اجراآت این کمیسیون ها را قبول ندارد.
هواداران تیم اصلاحات و همگرایی نیز از چندی به این سو در نقاط مختلف کشور دست به تظاهرات زده و خواستار برکناری رییس دارالانشا کمیسیون انتخابات شده بودند.
او اتهامات وارده به خود از سوی تیم اصلاحات و همگرایی را رد کرد و گفت که در دور دوم انتخابات بیش از هفت میلیون واجد شرایط شرکت کرده بودند.
یک روز پیش از استعفای رییس دارالانشای کمیسیون مستقل انتخابات، ستاد انتخاباتی داکتر عبدالله عبدالله، مکالمه تیلفونی که مربوط به امرخیل است را نشر کرد.
ستاد انتخاباتی داکتر عبدالله می گوید که اسناد بدست آمده نشان می دهد که آقای امرخیل در روز انتخابات به اعضای ستاد اشرف غنی احمدزی گفته که صندوق های رای دهی را به نفع این نامزد پر کنند.
در بخشی از این مکالمه تیلفونی آمده است که امرخیل به یکی از کارمندان کمیسیون گفته تا گوسفندها را به کوه‌ها ببرد و چاق بر گرداند.
اعضای ستاد داکتر عبدالله می گویند که آقای امرخیل به شکل رمزی به کارمند کمیسیون فهمانده که صندوق های رای دهی را به نفع احمد زی پر کند.
آقای امرخیل از مسئولان کمیسیون شکایات انتخاباتی خواست تا دسیسه علیه او را بررسی کنند.
در همین حال رییس کمیسیون مستقل انتخابات از استعفای دارالانشای این کمیسیون اظهار تاسف کرد.

ده درصد آرای ۵ ولایت ...

ابراز نگرانی شده شامل ولایت غور، نورستان، پکتیا، پکتیکا و خوست است که ده درصد آرای آن تفتیش می شود."
آقای نورستانی همچنان گفت که روند جمع بندی آرا به شکل نورمال آن پیش می رود و تا کنون، آرای ۳۳ ولایت که نود و یک اعشاریه پنجاه درصد را در بر می گیرد داخل سیستم شمارش این کمیسیون شده است.
وی گفت که قرار است تا روز سه شنبه فورم نتایج شمارش آرای ولایت پکتیکا هم داخل سیستم گردد.
روند شمارش آرا در حالی رو به تکمیل شدن است که پیش از این داکتر عبدالله عبدالله یکی از نامزدان دور دوم انتخابات ریاست جمهوری افغانستان، انتخابات دور دوم را پُر از تقلب خواند و هشدار داد که نتایج شمارش آرا را نمی پذیرد.
اما رییس کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان می گوید که بررسی مجدد محلات رای دهی در پنج ولایت در حضور ناظرین ملی و بین المللی و نماینده گان هر دو نامزد صورت خواهد گرفت.
آقای نورستانی از هر دو نامزد و نهاد های ناظر از این پروسه خواست تا در هنگام تفتیش و باز شماری این محلات حضور داشته باشند:
"از ناظرین ملی و بین المللی هم خواهش شده که نماینده های خود را در این ۵ ولایت بفرستند و در مقابل نماینده های کاندیدان، ناظرین ملی و بین المللی و از یوناما هم خواستیم که نماینده های شان را به حیث ناظر در این پروسه بفرستند."

د پاکستاني پوځيانو وروستيو ...

غندي؛ افغان امنیتي ځواکونه دا وړتیا لري، چې د هېواد د سرتیرو او اتباعو له ویښو دفاع وکړي؛ دوی به د پاکستاني پوځیانو د دې تېرې پر وړاندې غلې کښې نه نې او په مناسب وخت کې به بالمثله ځواب ورکړي."
د افغانستان د دفاع وزیر د یکشنبې په ورځ د ملي امنیت شورا په غونډه کې د پاکستاني پوځیانو د وروستیو فعالیتونو په اړه اندېښنه څرګنده کړه.
بسم الله محمدي ویلي، چې پاکستاني پوځیان په خپلو حملو کې له پرمختللو درنو وسلو کار اخلي او باید چې افغان امنیتي ځواکونه یې مخه ونیسي.
د راپورونو په اساس دوه شپې وړاندې پاکستاني پوځیان د ملکیانو په جامه کې له ډیورنډ کرښې نه را اوښتي او د کونړ په دانګام ولسوالۍ کې یې د یوې حملې پر مهال درې امنیتي سرتیري وژلي دي.
د دفاع وزیر ویلي، چې همدې پاکستاني پوځیانو په هلمند کې حملې ګرندۍ کړې او په ننګرهار کې یې د عامو خلکو په وژنه لاس پورې کړی.
له دې سربیره پر کونړ د پاکستان پرله پسې راکټي حملو هم افغان چارواکي په غصه کړي او ولسمشر حامد کرزي څه موده وړاندې دفاع وزارت ته امر وکړ؛ چې ځواکونه یې باید متقابل عمل ته چمتوالی ولري.

په افغانستان کې ۶۷ ...

دغه الوتکې د تخنیکي او نورو ستونزو سره مخامخ کیږي، پدې ترڅ کې د «واشنګټن پوسټ» ورځپاڼې پر راپور خبور کړی دی چې له مخې یې د ۲۰۰۱ میلادي کال راهیسې د

سازمان سارک بامیان را در ۲۰۱۵ بحیث پایتخت فرهنگی معرفی میکند

کابل، رسانه ها:
وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان می گوید، بامیان در سال ۲۰۱۵ به حیث پایتخت فرهنگی سازمان سارک با کشور های جنوب آسیا برای همکاری منطقوی، معرفی می شود. سید مخدوم رهین در صحبت با رادیو آزادی گفت، بامیان در هشت کشور جنوب آسیا به حیث شهر بی نظیر برگزیده شده است. او گفت، بعد از اینکه غزنی به عنوان مرکز ثقافت اسلامی یاد شد، وزارت اطلاعات و فرهنگ به همکاری وزارت خارجه افغانستان، تلاش کرد تا شهر بامیان در میان کشور های جنوب آسیا به حیث شهر فرهنگی بر گزیده شود.
وزیر اطلاعات و فرهنگ افغانستان گفت، هیات سارک پس از دیدار شهر بامیان این مساله را اعلان کرد. سیدمخدوم رهین افزود: "هیات سارک کاملاً این مساله را پذیرفتند که بامیان در سال ۲۰۱۵ به حیث پایتخت فرهنگی کشور های سارک اعلان شود و متن قبولی بامیان را رئیس هیات سارک که مسوول امور فرهنگی این سازمان است، در معرض روزنامه نگاران و فرهنگیان افغان به من سپرد."
هیات سارک در ملاقات با وزیر اطلاعات و فرهنگ و نماینده وزارت خارجه در مورد آمادگی های لازم، چگونگی افتتاح شهر بامیان بعنوان اولین پایتخت فرهنگی سارک در ماه جنوری سال ۲۰۱۵ میلادی و هم چنان اجرای برنامه های فرهنگی در این شهر، تبادل نظر کرد. ولایت بامیان و شهر بامیان از لحاظ فرهنگی یکی از شهر های ممتاز جهان به شمار می رود. به این معنی که بامیان در عصر باستان بزرگترین مرکز تجارتی در مسیر راه ابریشم و وسیله اتصال راه ها به جنوب، شرق و غرب بود و بزرگترین مرکز دین بودا به حساب می رفت، در دوران اسلام فرهنگ و ادب بامیان اهمیت خاص پیدا کرد، موجودیت دو مجسمه بزرگ بودا و هزاران مغاره های نقاشی شده برای عبادت راهبان بودایی و موجودیت بندامیر به بامیان خصوصیت بخشیده، اهمیت آن را بلند برده است. به گفته، وزیر اطلاعات و فرهنگ این خصوصیات باعث شد تا بامیان به حیث شهر بی نظیر برگزیده شود.
سیدمخدوم رهین در ادامه صحبت خود گفت: "اکنون وظیفه وزارت اطلاعات و فرهنگ، ولایت بامیان و رسانه های دولتی و خصوصی افغانستان است تا روی تاریخ بامیان، حوادث تلخ شرین بامیان، شکوه و ترقی بامیان در زمان رونق راه ابریشم، و انتقال آیین بودا از بامیان به چین، کوریا و آن مناطق کار کرده و این شهر را معرفی کنند."
وزیر اطلاعات و فرهنگ گفت، این وزارت به سلسله معرفی سایر شهر های تاریخی افغانستان مانند بلخ، هرات، قندهار و امثال آن، قرار است در ماه آینده سیمینار بامیان در گذرگاه تاریخ را برگزار کند که در آن نماینده کشور های منطقه نیز اشتراک خواهند کرد. بامیان در سال ۲۰۱۵ میلادی شاهد برگزاری برنامه های فرهنگی کشور های عضو سارک خواهد بود.

امریکایي پوځ تر ۴۰۰ څخه زیاتې لوی بې پیلوټه الوتکې رالوېدلي دي.
د راپور له مخې په ۱۳ کالو کې په ټولیزه توګه ۴۱۸ لوی حادثې رامنځ ته شوي چې یکښې انسانان نه دي وژل شوي. خو د داسو حادثو په هکله هم یادونه شوې ده چې نژدې وه چې انسانانو ته یې مرګ ژوبله اړولې وای. په دې ترڅ کې د پینسلوېنیا ایالت و یوه ښوونځي ته نژدې د بې پیلوټه الوتکې د لوېدلو خبره شوې ده.
د «واشنګټن پوسټ» د راپور له مخې د امریکا تر ټولو زیاتې الوتکې په افغانستان کې لوېدلې دي چې شمېر یې ۶۷ ته رسیږي. زیاتنه شوې چې په امریکا کې ۴۷ او په عراق کې ۴۱ امریکایي بې پیلوټه پوځي الوتکې رالوېدلي دي. په پاکستان کې هم د یو شمېر بې پیلوټه الوتکو د لوېدلو خبره شوې ده.
«واشنګټن پوست» د بې پیلوټه الوتکو د حادثو د وجوهاتو په هکله لیکلي چې زیاتره یې تخنیکي ستونزې او نیمګړتیاوې دي. د امریکا متحده ایالات د څو کالو راهیسې په «ترهګرۍ ضد جګړه» کې د بې پیلوټه الوتکو څخه کار اخلي. دغه هیواد وایي چې بې پیلوټه الوتکې بې خطره او مسؤنه دي او کولای شي چې حتی پر ملکي سیمو بېله ستونزې او ګواښه پروازونه وکړي.
یادې امریکایي ورځپاڼې په ټولیزه توګه د بې پیلوټه الوتکو پر ستونزو د ولاړو راپورونو تقریبا پنځوس زره پاڼې لوستي دي او بیا یې خپل راپور وړاندې خپور کړی دی. راپورونه یوازې د لویو بې پیلوټه الوتکو په هکله لوستل شوي چې پکښې پریډېټر، ګلوبل هاوک، ریپر، هنټر او ګرې ایګل ډولونه شامل دي. په ټولیزه توګه د امریکا پوځ په زرګونو بې پیلوټه الوتکې لري.
د «واشنګټن پوست» دغه راپور په دې تناظر کې خپور شوی، چې په متحده ایالتونو کې پر دې غور کیږي چې بې پیلوټه الوتکې د ملکي او تجارتي کار اخیستنې لپاره هم آزادې کړل شي.

د افغانستان په اړه د ...

روزنه کې لاس لري.
د امریکا د بهرنیو چارو پخوانۍ وزیرې دا څرګندونې په داسې حال کې کړي؛ چې ویل کیږي، د ډیورنډ کرښې ته څېرمه د پاکستان پر خوا په قبایلي سیمو، په ځانګړي توګه په شمالي وزیرستان کې دا مهال د پاکستانیو وسله والو طالبانو په ګډون د القاعدې او حقاني شبکې او همدارنګه یو شمېر ازبک، چیچن او عرب جنګیالیو مرکزونه او روزنځایونه موجود دي، چې له دې ځایه په افغانستان کې پر افغان اردو او حکومتي اهدافو بریدونه کوي.
ورځپاڼه لیکي، چې هیلري کلنټن په پاکستان کې دننه د سخت دریځه وسله والو همدغو مرکزونو ته په اشاره ویلي:
"دا داسې ده لکه څوک چې تر خپل شا زهرجن ماران ساتي او دا ګڼې، چې دا به یواځې ګاونډیان چیچي او موږ ته به څه نه وایي، خو اوس موږ وینو، چې دا باور سرچپه شوی او دا (ماران) اوس د پاکستان خپل وجود ته تر ټولو ستر ګواښ رامنځته کړی دی."
د روانې میاشت په ۸مه نېټه د پاکستان په ستر صنعتي ښار کراچۍ کې د دې ښار پر نړیوال هوايي ډګر وسله وال برید وشو؛ چې په ترڅ کې یې د پاکستانیو سرتیرو په ګډون لږ تر لږه ۳۰ کسان ووژل شول او ګڼ شمېر نور ټپیان شول.
د دې خونړي برید مسوولیت په شمالي وزیرستان کې مېشتې د ازبکستان اسلامي غورځنګ په نامه یوې وسله والې ډلې ومانه.
هیلري کلنټن د کراچۍ برید ته په اشاره ویلي:
"په پاکستان کې مېشت سخت دریځه وسله وال ترهګر اوس په دې هېواد کې ډېر زور خواره شوي؛ د پاکستان په نژدې ټولو سترو ښارونو کې یې فعالیت پیل کړی او پر سترو هدفونو بریدونه کوي؛ چې د کراچۍ برید یې ښه بېلګه ده. زه نه پوهېږم، چې پاکستان به اوس دا ترورېستان او تروریستي بریدونه نور څنګه له پامه غورځوي؟"
مېرمن هیلري زیاته کړې، هغه خلک شايي په غلط فهمۍ کې وي، چې وايي د هند او افغانستان په مقابل کې د پاکستان له خوا له دې ډلو سره اړیکې به ددې هېواد په ګټه وي.
د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو پخوانۍ وزیرې دا څرګندونې تر هغې وروسته کړې، چې د پاکستان پوځ د ډیورنډ کرښې ته څېرمه د شمالي وزیرستان په قبایلي سیمه کې د مېشت سخت دریځه وسله والو پر ضد پراخ پوځي عملیات پیل کړي او تر دې دمه یې د ۲۵۰ کورنیو او بهرنیو سخت دریځه وسله والو د وژلو خبر ورکړی.
خو د یادونې وړ ده، چې خپلواکو او سیمه سرچینو لا تر دې دمه د پاکستاني پوځ په عملیاتو کې د بهرنیو وسله والو د وژنې او شمېر د راپورونو تایید نه دی کړی.